مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نورمحمد غفوری ۲۰۲۶/۰۲/۱۰

# قومیت مهم دی که انسانیت؟

## د قومي هویت، سیاسي تعصب او ملت جوړونې اکاډمیک تحلیلي جاج

**۱. یادونه**

نن سهار، د ۲۰۲۶م کال د فبرورۍ په ۸مه نېټه، فېسبوک راته هغه لنډه لیکنه رایاده کړه چې پنځه کاله وړاندې مې، د ۲۰۲۱م کال د فبرورۍ په ۸مه نېټه، د **«له قومیت څخه انسانیت مهم دی»** تر سرلیک لاندې خپره کړې وه. دا موضوع ما ته له ۲۰۲۱م کال څخه وړاندې هم ارزښتناکه وه او د بېلابېلو مناسبتونو په ترڅ کې مې پرې ګڼې نورې لیکنې هم کړې دي.

اوس مې نیت دی چې د هماغې پخوانۍ لیکنې د محتوا او فکري بنسټ په نظر کې نیولو سره، دا نوې مقاله د قومي هویت، سیاسي تعصب او ملت جوړونې د اکاډمیک تحلیل له زاویې لا بدایه کړم. دا اړتیا ځکه لا تر اوسه هم پر خپل ځای ده چې، له بده مرغه، نن هم د پخوا په څېر یو شمېر کسان د قومي هویتونو تر بهانې لاندې د افغانانو تر منځ د نفاق اور ته لمن وهي او ټولنیز یووالی د خپلو سیاسي موخو قرباني کوي.

**۲. سریزه**

قومیت د ټولنیز هویت له بنسټیزو عناصرو څخه شمېرل کېږي، خو په هغو ټولنو کې چې سیاسي بنسټونه کمزوري او د قانون حاکمیت نیمګړی وي، دا هویت ډېر ژر د سیاسي ګټو لپاره تحریف او د حاکمیت د نیولو او ساتنې د راټولولو په وسیله اوړي.

قومي تعصب، چې له قومیت سره مفهومي توپیر لري، د ټولنیزو شخړو، سیاسي بې‌ثباتۍ او ملي یووالي د کمزورۍ له مهمو لاملونو څخه ګڼل کېږي.

دا مقاله هڅه کوي چې د قومیت او انسانیت تر منځ مفهومي اړیکه په تحلیلي ډول وڅېړي، د قومي تعصب د سیاسي کارونې میکانیزمونه تشریح کړي، او د ملت جوړونې په بهیر کې د انسانیت پر مرکزي او بنسټیز رول ټینګار وکړي.

**۳. مفهومي چوکاټ: قومیت، قومي تعصب او انسانیت**

قومیت یو طبیعي او ټولنیز هویت دی چې د فرد له اختیاره بهر وي او د زېږون له لارې په میراث وړپاتې کېږي. دا هویت له ژبې، کلتور، تاریخي حافظې او ګډو ټولنیزو تجربو سره ژور تړاو لري. په خپل ذات کې، قومیت نه منفي دی او نه هم د شخړې سرچینه؛ ستونزه هغه مهال راپیدا کېږي چې دا طبیعي هویت د سیاسي موخو لپاره تحریف او وسیله شي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پاږوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په خیر و لولئ

قومي تعصب هغه حالت دی چې يو قوم ځان تر نورو لوړ ګڼي او دا فرضي برتري د سياسي، اقتصادي يا ټولنيز امتياز د ترلاسه کولو يا ساتلو لپاره کاروي.

په مقابل کې، انسانيت يو اخلاقي- حقوقي مفهوم دی چې د انسان ذاتي کرامت، مساوي حقوق او د قانون پر وړاندې برابري تضمينوي. په معاصرو علمي ادبياتو کې، انسانيت د ملت- دولت د مشروعيت له بنسټيزو ستنو څخه ګڼل کېږي، ځکه چې يوازې د انسان پر مساوي ارزښت ولاړ سياسي نظام کولای شي د تنوع پر بنسټ يو باثباته ټولنيز جوړښت رامنځته کړي.

**۴. قوميت د سياسي وسيلې په توګه**

کله چې قوميت د واک د ترلاسه کولو يا ساتلو وسيله وګرځي، نو خپل طبيعي حالت له لاسه ورکوي او سياسي ابزار کېږي. قومپرستان- چې دلته د **قوميتجارانو** په نوم يادېږي- په شعوري ډول قومي احساسات راپاروي، تاريخي زخمونه تازه کوي او د «موږ او هغوی» مصنوعي کرښه رامنځته کوي.

دا بهير د ټولنې د انقطاب، ويشل کېدو او د متقابل باور د له منځه تلو سبب ګرځي. په پايله کې، سياسي اختلافونه د هويتي شخړو بڼه خپلوي، چې حل يې ستونزمن دی.

**۵. د قومي شخړو توليدي ميکانيزم**

قومي شخړې يوازې د تاريخي بې‌عدالتيو پايله نه دي، بلکې د معاصرو سياسي ستراتيژيو محصول هم دي. اقتصادي نابرابري، د سياسي واک انحصار، د قانون نشتوالی او د عادلانه سياسي مشارکت محدوديتونه هغه شرايط دي چې قومي تعصب پکې توليدېږي او دوام مومي.

په داسې فضا کې، پر دې تمرکز چې «کوم قوم حق لري»، د ستونزې له ريښې پام بل لوري ته اړوي؛ ځکه اصلي مسئله دا ده چې شخړه څنګه د واکمنو کړيو له خوا رامنځته او ساتل کېږي تر څو د قدرت موجوده معادله د ځان په ګټه بدله کړي.

**۶. د مظلوم- ظالم اړيکه او د قوميت اخلاقي بحران**

يو له جدي اخلاقي او سياسي ستونزو څخه دا ده چې د يو قوم مظلومان، د خپل قومي هويت له امله، د نورو قومونو له لوري هم تر فشار او طرد لاندې راځي. دا چلند د فردي مسئوليت اصل تر پښو لاندې کوي او ټولنيز عدالت کمزوری کوي.

علمي څېړنې ښيي چې کله يو مظلوم فرد د خپل هويت له امله د نورو قومونو لخوا طرد شي، نو د ځان د ساتنې له پاره د خپل قوم د هماغو ظالمانو پر لور ورګرځي؛ چې دا حالت د ظلم دوام تضمينوي او قومي تعصب ته مشروعيت ورکوي.

**۷. قوميتجاران او د وېرې سياسي اقتصاد**

قوميتجاران د وېرې له سياسي اقتصاد څخه ګټه اخلي. دوی خپل قومونه د نورو قومونو له احتمالي ګواښ څخه وېروي او دا ډار د اطاعت، وفادارۍ او سياسي تسليمۍ په سرمايه بدلوي. په دې توګه، قومي تعصب د واک د مشروعيت بديل ګرځي او د قانون، تابعيت او ملي هويت ځای نيسي.

په افغانستان کې د بن په لومړي کنفرانس کې، د مثال په توګه، دولتي چوکۍ د قومي سهميې پر بنسټ وويشل شوې چې دې کړنې قومي هويتونه پياوړي، متقابل باور کمزوری او دولت د قومي معاملې په ډګر بدل کړ.

**۸. نظري مکتبونه او د قومي سياست تحليلي چوکاټ**


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

په سیاسي علومو کې د قومیت او قومي شخړو د تحلیل لپاره څو مهم نظري مکتبونه شته، چې له جملې څخه یې جوړښتي یا ترمیمی (Constructivism) او ابزاري (Instrumentalism) نظریې تر ټولو زیاتې استعمالیږي.

تعمیري یا سازنده لیدلوري Constructivism په دې نظر دی چې قومي او سیاسي هویتونه ذاتي او ثابت واقعیتونه نه دي، بلکې د ټولنیزو، سیاسي او تاریخي شرایطو په ترڅ کې رامنځته کېږي او ټاکلې بڼه نیسي. د لید له دې زاویې، قومي هویتونه د قدرت، سیاسي محاسبې، ټولنیزو تعاملاتو او تاریخي روایتونو له اغېز لاندې تعریف او بیا تولیدیږي.

د قومیت ابزاري لیدلوری یاInstrumentalism هغه نظریه ده چې پر اساس یې سیاسي نخبگان قومیت د واک د ترلاسه کولو او ساتلو لپاره کاروي. د دې مکتب له نظره قومي شخړې د ولسي غوښتنو طبیعي پایله نه، بلکې د واکمنو کړیو د شعوري محاسبې محصول ګڼل کېږي. د انسترومینټالیسم له نظره، قومي او سیاسي هویتونه یوازې ټولنیزې پېژندنې نه دي، بلکې سیاسي نخبه او واکمنې کړۍ یې د واک د ترلاسه کولو، ساتلو او مشروعیت بخښلو لپاره په شعوري او ابزاري ډول کاروي.

### ۹. مقایسوي بېلګې: افغانستان، عراق، لبنان او بوسنیا

د افغانستان، عراق، لبنان او بوسنیا تجربې تر ډېره د انسترومینټالیزاسیون(Instrumentalism) له منطق سره سمون لري؛ ځکه چې په دغو هېوادونو کې قومي، مذهبي او هویتي وېشونه د سیاسي جوړښتونو له خوا رسمي او په کار اچول شوي دي.

#### الف) افغانستان: د بن کنفرانس تحلیلي چاج

د اوسني امارت تر مخه، د افغانستان د «مدرن سیاسي نظم» یعني د افغانستان د اسلامي جمهوریت بنسټ د بن د کنفرانس له لارې کېښودل شو؛ هغه کنفرانس چې د ۲۰۰۱ م کال د نومبر او ډسمبر په میاشتو کې د جرمني د بن په ښار کې د ملګرو ملتونو تر چتر لاندې ترسره شو. د بن کنفرانس اساسي موخه د طالبانو د رژیم (د لومړي امارتي نظام) تر سقوط وروسته د یو انتقالي سیاسي جوړښت رامنځته کول، د جګړې پای ته رسول، او د دولت د بیا جوړونې لپاره د یو موقتي سیاسي چوکاټ برابرول وو.

که څه هم د بُن د هوکړه‌لیک په رسمي متن کې قومیت د سیاسي نظام د بنسټ په توګه نه دی تعریف شوی، خو په عملي تطبیق کې سیاسي واک د قومي توازن او غیر رسمي سهمیې پر اساس تنظیم شو. دولتي چوکۍ، امنیتي بنسټونه او مهم سیاسي مقامونه د سیاسي معاملې او قومي سوداګرۍ له لارې د قومي استازیتوب پر بنسټ ووېشل شول. دې چارې د ګډ ملي هویت او مساوي تابعیت پر ځای قومي هویتونه پیاوړي کړل او دولت یې د ټولو اتباعو د ګډ چوکاټ پر ځای د هویتي معاملې په میدان بدل کړ.

د کانسټروکټیویسم (تعمیري نظریې) له نظره، د بن د کنفرانس بهیر قومي هویتونه یوازې منعکس نه کړل، بلکې په فعاله او تعمیري بڼه یې بیا راژوندي او تولید کړل. د هغه وخت وسله‌والو جګړه‌مارانو او سیاسي نخبګانو قومي هویتونه د «نړیوالې ټولنې» د حضور په فضا کې د سیاسي مشروعیت د سرچینې په توګه وکارول. په دې توګه، دولت د یو بې‌طرفه ملي بنسټ پر ځای د قومي معاملو او د قدرت د وېش په ډګر بدل شو. د دې بهیر پایله د ټولنیزو ګروپونو تر منځ د متقابل باور کمزوري کېدل، د قانون د حاکمیت نیمګړتیا، د ملي یووالي تدریجي زیانمنېدل، د نفاق تخم شیندل، او د افغاني ټولنې ژور وېش و.

د Instrumentalism (د قومیت د ابزاري کېدو نظریې) له نظره، د بن تر کنفرانس وروسته سیاسي نظم په څرګنده توګه ښیي چې قومیت د واک د وېش، ترلاسه کولو او ساتلو لپاره د وسیلې په توګه وکارول شو، نه د ټولنیزې تنوع د عادلانه او بنسټیز مدیریت لپاره. که څه هم دې جوړښت د لنډ مهال ثبات د تأمین ادعا لرله، خو په اوږدمهال کې یې سیاسي فساد، اداري کمزورتیا، د قومي ټیکه‌دارانو او وسله‌والو جګړه‌مارانو ځواکمنېدل، او د دولت او ملت تر منځ د واټن ژوروالی زیات کړ.

په افغانستان کې، سره له دې چې قومیت په رسمي ډول د سیاسي نظام بنسټ ونه ګرځول شو، خو د سیاسي سوداګرو او تېل شوو واکمنو له لورې په تدریجي ډول د قدرت د تنظیم او د مشروعیت د بدیلې سرچینې په توګه وکارول شو. په عملي سیاست کې دولتي چوکۍ د «قومي توازن» او غیر رسمي سهمیې پر بنسټ ووېشل شوې، چې دا وضعیت د ملي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

هویت کمزوري، د متقابل باور له منځه تلل، او د دولت د بې‌طرفه اداري د مشروعیت زیانمنېدل له ځان سره راوړل. په پایله کې، دولت د یو ګډ ملي چوکاټ پر ځای د قومي معاملې په ډګر بدل شو او سیاسي وفاداري د قانون او ملی تابعیت پر ځای قومي شبکو او جګړه‌مارو ډلو ته واوښته.

د بن تجربه، لکه د بوسنیا د ډیټن تړون، په ډاګه کوي چې د سولې او ثبات لپاره جوړ شوي سیاسي جوړجاړي که د انسانیت، مساوي تابعیت او د قانون د حاکمیت پر بنسټ ولاړ نه وي، نو که څه هم جګړه موقتاً مهارولی شي، خو د ملت جوړوني بهیر کمزوری کوي او د دایمي ثبات لپاره پایداره بنسټ نه شي برابرولی.

**ب) عراق: د ۲۰۰۳م کال وروسته سیاسي نظم تحلیلي جاج**

د عراق معاصر سیاسي نظم د ۲۰۰۳م کال د امریکا په مشرۍ پوځي مداخلې او د صدام حسین د رژیم تر نسکورېدو وروسته رامنځته شو. د نوي سیاسي جوړښت اساسي موخه دا وه چې یو داسې نظام جوړ شي چې د عراق قومي او مذهبي تنوع منعکسه کړي او د اوږدمهاله استبداد وروسته ټولو ته په سیاست کې د شمولیت زمینه برابره کړي. خو په عملي ډګر کې، دا بهیر د (کردانو، سنیانو او شیعه ګانو) تر منځ د قومي–مذهبي سهمیې (Kurd–Sunni–Shi'a) پر بنسټ تنظیم شو او د هغوی سیاسي هویتونه یې رسمي کړل.

که څه هم د عراق اساسي قانون د برابر تابعیت او ملي یووالي پر ارزښتونو ټینګار کوي، خو په عملي سیاست کې دولتي چوکۍ، سیاسي واک او اقتصادي سرچینې د قومي او مذهبي استازیتوب پر بنسټ ووېشل شوې. سیاسي ګوندونه د ملي پروګرامونو پر ځای د قومي او مذهبي هویتونو پر محور تنظیم شول، چې دا چارې د ملي هویت د کمزورۍ او د دولت د اداري د ټوټه کېدو لامل وګرځېدې.

د کانسټروکټیویسم له نظره، د ۲۰۰۳م کال وروسته سیاسي بهیر قومي او مذهبي هویتونه یوازې منعکس نه کړل، بلکې په تعمیري ډول یې بیا تولید او پیاوړي کړل. سیاسي نخبګانو دا هویتونه د مشروعیت د سرچینې په توګه وکارول او سیاسي وفاداري یې د دولت او قانون پر ځای قومي او مذهبي شبکو ته واړوله.

د Instrumentalism له زاویې، د عراق تجربه څرګندوي چې قومي او مذهبي هویتونه د واک د ترلاسه کولو، وېش او ساتلو لپاره د سیاسي وسیلې په توګه وکارول شول. که څه هم دا جوړښت د شمولیت او توازن تر شعار لاندې وړاندې شو، خو په اوږدمهال کې یې پراخ اداري فساد، سیاسي فلج، امنیتي بې‌ثباتي او د دولت د پرېکړه‌کولو او د هغو د عملي کولو د توان کمزورتیا رامنځته کړه. د عراق تجربه ښیي چې وسیلوي (افزاري) قومیت، که څه هم د لنډ مهال ثبات ژمنه کوي، په اوږد مهال کې د ملي یووالي او مؤثر دولت جوړوني مخه نیسي.

**ج) لیبیا: د دولت د ړنګېدو او هویتي ټوټه کېدو تحلیلي جاج**

د لیبیا سیاسي بحران د ۲۰۱۱م کال له پاڅون او د معمر القذافي د رژیم تر نسکورېدو وروسته پیل شو. د قذافي تر سقوط وروسته، لیبیا د یو داسې سیاسي تشې سره مخ شوه چې پکې نه ملي بنسټونه ټینګ شول او نه هم یو ټولشموله سیاسي تړون رامنځته شو. دا خلا د سیمه‌ییزو، قبیلوي او سیاسي هویتونو د پیاوړتیا سبب شوه.

که څه هم لیبیا په دودیز ډول د افغانستان یا عراق په څېر قومي وېش نه درلود، خو قبیلوي او سیمه‌ییز هویتونه د سیاسي تنظیم بنسټ وګرځېدل. د مرکزي دولت د نشتوالي له امله، وسله‌والو ډلو، سیمه‌ییزو ځواکونو او سیاسي شبکو واک تر لاسه کړ او سیاسي مشروعیت د ملي قانون پر ځای د زور، وسلې او محلي وفادارۍ پر بنسټ تعریف شو.

د کانسټروکټیویسم (سازندګی نظریې) له نظره، د لیبیا تجربه ښیي چې سیاسي هویتونه په بحران کې په چټکۍ سره جوړېږي. قبیلوي او سیمه‌ییز هویتونه، چې پخوا یې محدود سیاسي رول درلود، د قدرت د وېش او سیاسي تنظیم اصلي واحدونه وګرځېدل. دې بهیر ملي هویت کمزوری او سیاسي فضا ټوټه ټوټه کړه.

د Instrumentalism (افزاری تیوري) له نظره، د لیبیا وسله‌والو او سیاسي نخبګانو قبیلوي او سیمه‌ییز هویتونه د واک د ترلاسه کولو او ساتلو له پاره د افزار او وسیلې په توګه وکارول. د دې وضعیت پایله د دولت بشپړه کمزورتیا، دوامداره کورنۍ جګړې، د ملي بنسټونو نشتوالی او د یو واحد سیاسي نظم د رامنځته کېدو ناتواني وه. د لیبیا تجربه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ښرګندوي چې که سیاسي جوړجاړی د انسانیت، مساوي تابعیت (ښاروندی) او د قانون حاکمیت پر بنسټ ولاړ نه وي، نو ګروهي هویتونه په هېواد کې د دولت د جوړېدو پر ځای د دولت د ړنګېدو وسیله ګرځي.

**د) لبنان: د مذهبي- قومي سهمیې د سیاسي نظام تحلیلي جاج**

د لبنان معاصر سیاسي نظام د مذهبي- قومي سهمیې(د واک د اعترافي شراکت) یا (power confessional-sharing) پر بنسټ ولاړ دی؛ هغه جوړښت چې ریښې یې د فرانسوي قیمومیت دورې او د ۱۹۴۳م کال د «ملي تړون» (Pact National) پورې رسېږي او وروسته د ۱۹۸۹م کال د طائف تړون له لارې بیا تنظیم شو. د دې نظام اساسي موخه دا وه چې د لبنان مذهبي تنوع د سیاسي مشارکت له لارې مدیریت کړي او د کورنیو شخړو مخه ونیسي. (د واک اعترافي شراکت هغه سیاسي جوړښت دی چې پکې د لنډ مهاله ثبات په بدل کې مذهبي یا قومي هویتونه د دولت رسمي بنسټ ګرځي، خو په اوږدمهال کې د ملي هویت، د قانون حاکمیت او سیاسي اصلاحاتو مخه نیسي.)

که څه هم دا جوړښت په نظري ډول د شمولیت او توازن زمینه کوي، خو په عملي سیاست کې یې مذهبي او قومي هویتونه رسمي کړل او سیاسي واک یې د مذهبي- قومي استازیتوب پر بنسټ وتاړه. د دولت لوړې چوکۍ- لکه ولسمشر، صدراعظم او د پارلمان رئیس- په مشخص ډول ځانګړو مذهبي ډلو ته ځانګړې شوې، چې دې چارې ملي تابعیت د مذهبي هویت تر سیورې لاندې راوست.

د جوړونکي تیورۍ یا کانستروکتیویسم له نظره، د لبنان سیاسي نظام مذهبي او قومي هویتونه یوازې منعکس نه کړل، بلکې په تعمیري ډول یې بیا تولید او نهادینه کړل. سیاسي نخبګانو مذهبي هویتونه د سیاسي مشروعیت د سرچینې په توګه وکارول او ټولنیزې وېشلې کرښې یې لا ژورې کړې. په دې توګه، ملي هویت د یو ګډ انساني او قانوني چوکاټ پر ځای د مذهبي استازیتوب په چوکاټ کې تعریف شو.

د Instrumentalism یا (افزاري کېدو) د تیورۍ له زاویې، د لبنان تجربه ښرګندوي چې مذهبي- قومي هویتونه د سیاسي واک د وېش، ساتلو او بیا تولید لپاره د وسیلې په توګه کارول شوي دي. سیاسي مشران د خپلې ټولنې د «ساتونکو» په توګه ځانونه معرفي کوي او د وېرې، بې‌باورۍ او خارجي ګواښونو له لارې خپل نفوذ ټینګوي. د دې بهیر پایله سیاسي فلج، پراخ اداري فساد، اقتصادي سقوط او د دولت د پرېکړه‌کولو د توان کمزورتیا ده.

د لبنان تجربه ښیي چې د مذهبي- قومي سهمیې نظام، که څه هم د لنډ مهال ثبات د تأمین ادعا لري، خو په اوږدمهال کې یې د ملت جوړونې بهیر ټکنی کړی، انساني کرامت او مساوي تابعیت یې کمزوري کړي، او ټولنه یې د دایمي سیاسي بحران پر لور سوق کړې ده. دا تجربه د افغانستان، عراق، لیبیا او بوسنیا تر څنګ یو ځل بیا تاییدوي چې هغه سیاسي جوړښتونه چې قومي او نور ډله ایز هویتونه د انسانیت او قانون پر وړاندې د برابرۍ پر ځای د واک د وسیلې په توګه کاروي، د دوامدار ثبات او ملي یووالي لپاره مناسب بنسټ نه شي کېدای.

**د) بوسنیا او هرزېګوینا: د ډیټن تړون تحلیلي جاج**

د بوسنیا او هرزېګوینا اوسنی سیاسي جوړښت د **ډیټن د سولې تړون** پایله ده، هغه تړون چې د ۱۹۹۵م کال په نومبر کې د امریکا د متحده ایالاتو په منځګړیتوب د اوهایو ایالت د ډیټن ښار ته څېرمه تر مذاکراتو وروسته وشو او د هماغه کال د ډسمبر په ۱۴مه نېټه په پاریس کې په رسمي ډول لاسلیک شو. د دې تړون اصلي موخه د ۱۹۹۲–۱۹۹۵م کلونو خونړۍ کورنۍ جګړې پای ته رسول او د بوسنیا د بشپړې تجزیې مخنیوی و.

د ډیټن تړون، که څه هم جګړه ودروله، خو بوسنیا او هرزېګوینا یې د یو **قومي–هویتي سیاسي جوړښت** پر بنسټ تنظیم کړه. د تړون له مخې، هېواد په دوو اصلي سیاسي واحدونو ووېشل شو: د بوسنیا او هرزېګوینا فدراسیون (چې بوسنیایي مسلمانان او کرواتان پکې شامل دي) او د صربانو جمهوریت. سربېره پر دې، درې «رسمي قومونه»- بوسنیایي مسلمانان، صربان او کرواتان- د اساسي قانون په کچه د سیاسي نظام بنسټ وګرځول شول.

که څه هم دا جوړښت د جګړې د درولو لپاره اغېزمن و، خو په اوږدمهال کې یې قومي هویتونه رسمي کړل، ملي تابعیت او ملی هویت یې کمزوری کړ، او سیاسي نظام یې داسې پېچلی کړ چې د اصلاحاتو او مؤثرې حکومتدارۍ مخه یې ونیوله. په عملي توګه، سیاسي وفاداري د دولت او قانون پر ځای قومي استازیتوب ته واوښته، او د انسانیت، مساوي حقوقو او فردي تابعیت ارزښتونه د قومي هویت تر سیورې لاندې پاتې شول.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

د کانستروکتیویسم له نظره، د بوسنیا تجربه ښیي چې قومي هویتونه د جګړې په شرایطو کې په تعمیري ډول پیاوړي کېږي او کله چې د سولې په ترونونو کې رسمي بڼه خپلوي، نو د ملت جوړونې بهیر ټکنی کوي. له همدې امله، ډیټن تړون په علمي ادبیاتو کې زیاتره د **سولې راوستونکی تړون (peace-making)** بلل کېږي، نه د **دولت جوړونې تړون (building-state)**. دا تجربه څرګندوي چې د قومیت پر بنسټ جوړ سیاسي جوړجاړی ښایي جګړه ودروي، خو تر هغو چې انسانیت، مساوي تابعیت او د قانون حاکمیت یې مرکزي محور نه وي، دوامداره ثبات او ملي یووالی نه شي تضمینولی.

## ۱۰. مقایسوي تحلیل: د کانستروکتیویسم او انسترومینتالیسم په رڼا کې

د کانستروکتیویسم له نظره، د افغانستان، عراق، لیبیا، لبنان او بوسنیا تجربې په ډاګه کوي چې قومي، مذهبي او سیاسي هویتونه ذاتي او ثابت واقعیتونه نه دي، بلکې د ځانګړو سیاسي، ټولنیزو او تاریخي شرایطو په ترڅ کې په تعمیري ډول رامنځته کېږي، بیا تعریفېږي او شکل نیسي. په دغو هېوادونو کې هویتونه یا د جګړې د پای ته رسولو، یا د واک د وېش، او یا هم د سیاسي مشروعیت د تولید لپاره په شعوري ډول بنسټیز شوي دي.

د انسترومینټالیسم له نظره، دا تعمیري هویتونه یوازې ټولنیزې پېژندنې نه پاتې کېږي، بلکې د سیاسي نخبګانو او واکمنو کړیو له خوا د واک د ترلاسه کولو، ساتلو او مشروعیت بخښلو لپاره په ابزاري ډول کارول کېږي. په دې چوکاټ کې، قومیت او مذهبي هویت د سیاسي سیالۍ وسیلې ګرځي، چې د منابعو وېش، دولتي مقامونو ته لاسرسی او سیاسي وفاداري تنظیموي. له همدې امله، هویتونه د شخړو تصادفي پایله نه، بلکې د واکمنۍ د یوې محاسبه شوې ستراتیژۍ بڼه خپلوي.

کله چې قومیت یا مذهبي- قومي هویت د سیاسي نظام رسمي یا غیر رسمي بنسټ وګرځي، ګډې پایلې ترې راولاړېږي: ملي هویت کمزوری کېږي، سیاسي وفاداري د دولت او قانون پر ځای قومي او فرعي شبکو ته اړول کېږي، او د قانون حاکمیت د سیاسي معاملې قرباني کېږي. په دې بهیر کې، فرد د مساوي تابعیت لرونکي انسان پر ځای د یوې هویتي ډلې د غړي په توګه تعریفېږي، او انساني کرامت د ډلهییز هویت تر سیوري لاندې پاتې کېږي.

دا مقایسوي جاج ښیي چې ستونزه په خپله قومیت یا تنوع کې نه ده، بلکې د قومیت سیاسي کارونه او ابزاري کول دي. هغه سیاسي نظامونه چې د انسانیت، مساوي تابعیت او د قانون پر وړاندې د برابرۍ ارزښتونه د خپل مشروعیت په مرکز کې نه ږدي، که هر څومره د شمولیت، توازن او ثبات دعوه وکړي، په عملي ډګر کې د وېش، بېثباتۍ او دایمي بحران پر لور ځي.

## ۱۱. پایله: د انسانیت فلسفي لومړیتوب او د هویتونو سیاسي مدیریت

د دې مقالې تحلیلي او مقایسوي جاج وښودله چې قومي او اعترافي هویتونه نه ذاتي، نه ثابت، او نه هم له سیاست څخه خپلواک واقعیتونه دي، بلکې د ټولنیزو، سیاسي او تاریخي شرایطو په ترڅ کې په تعمیري ډول رامنځته کېږي او بڼه اخلي. د کانستروکتیویسم له نظره، هویتونه هغه ټولنیزې ماناوې دي چې د قدرت، خبرواترو او تاریخي تجربو په تعامل کې جوړېږي؛ له همدې امله، دولتونه او سیاسي نظامونه یوازې د هویتونو منعکسوونکي نه دي، بلکې د هغوی د بیا تولید، پیاوړتیا او یا کمزورۍ فعال عاملین ګڼل کېږي.

خو دا تعمیري بهیر په خپل ذات کې بېطرفه نه دی. د انسترومینټالیسم له تحلیلي چوکاټ څخه څرګندېږي چې سیاسي نخبه او واکمنې کړۍ دغه تعمیري (راجوړ شوي) هویتونه د واک د ترلاسه کولو، ساتلو او مشروعیت بخښلو له پاره په قصدي ډول د وسیلې په توګه کاروي. په دې توګه، قومیت او مذهب له ټولنیزو پېژندنو څخه د سیاسي سوداګرۍ په ابزارو بدلېږي او د فردي حقونو، د قانون حاکمیت او مساوي تابعیت ځای نیسي. دا ابزاري کارونه د شخړو تصادفي پایله نه، بلکې د واکمنۍ یوه حساب شوې ستراتیژي ده.

د فلسفي لحاظه، د دواړو نظریو ګډه پایله دا ده چې د سیاسي نظم مشروعیت نه شي کولی پر هویتي وېش، ډلهییز امتیاز او یا د واک په اعترافي سهمیې تکیه وکړي. هر هغه نظام چې د هویتونو تعمیري ماهیت له پامه غورځوي او هغوی د قدرت د وېش ثابت بنسټ ګرځوي، په حقیقت کې تاریخ کنګل کوي، ټولنه په مصنوعي کرښو وېشي، او د سیاسي اخلاقو بنسټ زیانمنوي. په داسې نظامونو کې فرد د خپل انساني کرامت له مخې نه، بلکې د خپل ډلهییز هویت له مخې ارزول کېږي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

د ملت جوړوني فلسفي بنسټ د انسانيت په اصل کې نغښتی دی: يعنې دا منل چې فرد د قانون پر وړاندې د برابر انسان په توګه ارزښت لري، نه د قوم، مذهب يا ژبې د استازي په توګه. انسانيت دلته يوازې اخلاقي شعار نه، بلکې يو سياسي اصل دی چې پر بنسټ يې مساوي تابعيت، عدالت، او قانون حاکميت معنا پيدا کوي. هويتونه، که هر څومره مهم وي، بايد د انسانيت تر چتر لاندې تنظيم او مديريت شي، نه دا چې انسانيت د هغوی تر سيوري لاندې ورک شي.

په پايله کې، مقاله ټينګار کوي چې ستونزه په قوميت، مذهب يا تنوع کې نه ده، بلکې د دې هويتونو په تعميري او ابزاري سياسي کارونې کې ده. هغه ټولنې چې د لنډ مهاله ثبات په نوم د هويتونو سياسي کنګل منې، ښايي جګړه وځنډوي، خو عدالت، اصلاح او دايمي ثبات له لاسه ورکوي. برعکس، هغه سياسي نظم چې انسانيت، مساوي تابعيت او د قانون حاکميت د خپل ارزښتي مرکز په توګه منې، کولای شي هويتونه له شخړې څخه د همزيستۍ پر لور واړوي.

له همدې امله، د دې مقالې وروستۍ ادعا دا ده چې: **قوميت مهم دی، خو انسانيت تر هر څه لومړی دی. يوازې هغه ټولنه چې د انساني کرامت، مساوي تابعيت او د قانون د حاکميت پر بنسټ ولاړه وي، کولای شي ملي يووالی، عدالت او ثبات تأمين او تضمين کړي.** يوازې هغه سياسي نظامونه چې دا فلسفي اصل په جدي ډول خپل کړي، د ملت جوړونې، عدالت او پايدار ثبات واقعي امکان رامنځته کولای شي.

نور محمد غفوري

د ۲۰۲۶م کال د فبروري ۸- مه نېټه

---


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ